مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نو یسنده لزوما نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۶/۱۶

# وطنه!

نه د تـقریر، نه دي تحریر، نه د تد بیر لري څوک
اهل تقرير چيرته دي اوس، نکته دانان دي څه شول

چی خــــطابي کی به یی، خپي د استــعمار لرزيدی
آخوله ور، آســـخنور، آ سخــنـدان دي، څــه شـول

په معيـــارونو د تقرير چی یی، وينا وه، جـــوړه
نکـته دانان، نکـته فـهمان، او اديبان دي څـه شول

چی دا خيرن ضمـير باطن مو، په وينـا کړي روښان
په رمــوزاتو باندی پوی، صــاحبدلان دي څـه شول

چی د مـحفل ياران په جوش او په خـروش راولي
د معرفت په ډيوی، سوی پتنـــــــګان دي څه شول

چی انګــازی دعلم وفن یی، په دنیا وي خــــــوري
په معرفت باندی سمـــــبال، دانشوران دي څه شول

په علـــميت او فضـيلت چی یـــی، جـهان نازيده
د سيد جمال په څير ربنتيني، عـــالمان دي څه شول

تل بيـماران چی په کـړاو کی، د وطـن وو هـغوی
د سيد حسن په څير دردمنه، غمخواران دي څه شول

چی د وطـن په غم یی تل ژړا شيـــــون وو، شـــعار
چی د په قـدر پوهيدل، آ قـدر دان دي څـــه شول

په شــــهامـــت چـــی یی ډاډه ول، دخـــوارانو زړونه
لکه اکبر غوندی نيـــازبين، شـــهريارن دي څـه شول

چی یی تـکــل وو، چی لکی د استـــعمار غوڅه کړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د ایوب خان په څیر زړور، شهسواران دي څه شول**

**چی په کلنو تری نه ایره کړه، په خوب کی غلیم**

**د ملا مشک او میر بچه غوندی، غازیان دي څه شول**

**محمد جان خان، میرزمان خان چی ول غازیان درمان**

**د شهامت شمله داران، ښکلی خانان دي څه شول**

**چی د پرهر او د زخمو، دي وو، علاج ورسره**

**اهل درمان دي چیرته دي، آطبیبان دي څه شول**

**چی ترګوندو لاندی، هوی، او خپل هوس راولي**

**هوی د نفس باندی غالب، پهلوانان دي، څه شول**

**چی د نازو بارونه یی وړل، د محبت په اوږو**

**هغه درمن په زړه خوږمن، مهربانان دي څه شول**

**چی د یارئ او یارانی په لار، له سره ول تیر**

**د یارانئ په دود خبره، آشنایان دي، څه شول**

**له باغ وبڼه، کوچیدلی خوش الحانه مارغان**

**په ګلستان څه پریوتل، عندلیبان دي، څه شول**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ